بسم الله الرحمن الرحيم

**برېښناييزې اړيکې کورنۍ څنګه پاشي او خلک څنګه له يوه بل بېلوي؟**



**(ژباړه)**

که څه هم برېښناييزو وسايلو دخلکو ترمنځ واټنونه رالنډ کړي دي، مګر په ورته وخت کې د دې لامل هم شوي دي چې د ښځې او مېړه ترمنځ اختلاف خورا ډېر شي او د طلاق ورکولو/ اخيستلو کچه هم لوړه شي. که څه هم برېښناييزو توکو هغه کسان چې له يو بل سره مينه لري او له يو بل لرې دي سره يوځای کړي، مګر په ورته وخت کې يې د يوې کورنۍ غړي سره بېل کړي دي او د دې لامل شوي دي چې له يو بل بېل شي، چې دا يو لوی پاراډوکس دی!!

د برېښناييزو اړيکو اپلېکشنونه څه ډول په داسې اپلېکشونونو اوړي چې خلک نفرت او کرکه ترې کوي؟!

د اړيکو برېښناييزو وسايلو د خلکو ترمنځ د اړيکو او چلند بڼه بدله کړې ده او د تکنالوژيکې انقلاب وروسته خلک له يواځيتوب، ټولنيز بېلوالي او ډيپرېشن څخه سخت کړېږي. کورنۍ داسې غلې شوې دي چې ته به وايې هلته هېڅوک هم ژوند نه کوي او خپل خپلوان او دوستان يوازې د رخصتيو په ورځو کې د پيغام او انځورونو په راکړې ورکړې سره اړيکې نيسي. همدارنګه د بابا او نيا ترمخه د ماشومانو شوخۍ او منډې چې دوی ته به يې انرژي ورکوله او پر مخونو به يې خنداګانې راتللې کمه کړې ده. اوس د کورنۍ هر غړی له خپلې برېښناييزې وسيلې سره بوخت وي او تر سلام او ښه راغلاست وروسته د کور په يوه کونج کې کيني او له خپلې برېښناييزې وسيلې سره بوختېږي؛ بدن يې له خپلې کورنۍ سره وي مګر فکر او سوچ يې له کورنۍ سره نه وي، بلکې بيرون وي.

ټولنيزې شبکې دومره پراخه شوې دي چې د کورنو تر پنجرو او ديوالونو د کورنيو ژوند ته ور دننه شوې دي، د کورنيو شخصي ژوند يې له منځه وړی دی. د کورنيو خصوصي او محرم ژوند يې ټولو خلکو ته څرګند کړی دی او د کورنيو شخصي ژوند يې عامه خلکو ته خپور کړی دی او د کورنيو د غړو ترمنځ يې اختلافونو او منازعې رامنځته کړې دي لکه طلاق، د ښځې او مېړه ترمنځ د اړيکو خرابېدل او د دې ترڅنګ يې د ټولنې د خلکو ترمنځ کرکه، حسد او نفرت زېږولي دي.

د ګڼو څېړنو او مطالعو پر بنسټ؛ برېښناييزو ټولنيزو شبکو په ځانګړي توګه فيسبوک او واټس اپ د نړۍ په کچه د لوړې کچې طلاق لامل شوي دي. موږ دلته ټولې احصايې نه شو را اخيستلی، مګر ځينې داسې احصايې چې د خطر زنګونه کړنګوي دلته را اخلو: په فلسطين کې شرعي محکمې داسې ارقام خپاره کړي دي چې وايي نيمايي طلاقونه

هغه وخت پېښېږي چې نجلۍ او هلک سره کوژدن شوي وي مګر واده يې نه وي سره کړی، چې په دې اړه متخصصين باور لري چې د دې ستونزې اصلي لامل انلاين اړيکې دي. د هغې احصايې پر بنسټ چې په ۲۰۱٦ کې خپره شوې ده وايي چې په اردن کې په تېرو دريو کلونو کې د طلاق کچه خورا زياته لوړه شوې ده؛ چې هر کال د تېر کال په کچه د طلاق زر پېښې زياتېږي، چې اصلي لامل يې د فيسبوک او واټس اپ له لارې د ښځو او نارينه و اړيکې نيول دي. همدارنګه په عربي متحده اماراتو کې احصايه ښيي چې په دې هېواد کې د طلاق پېښې ۵۰ سلنه د تېرو کلونو په نسبت زياتې شوې دي. همدارنګه په دې هېواد کې د کورنيو د لارښوونې څانګه وايي چې په ۲۰۱۵ ز کال کې د ښځې او مېړه ترمنځ د اړيکو د خرابېدو ۵۰۰۰ پېښې ثبت شوې دي چې له ۵۰ څخه تر ٦۰ سلنې لامل يې برېښناييزې انټرنېټي اړېکې وې، چې ۱۰۰۰ يې په طلاق اخيستلو منتج شوې دي.
پورته وېروونکې احصايې ښيي چې ټولنيزې انټرنېټي شبکې او اپلېکشنونو د کورنيو ژوند څومره تريخ کړی دی؛ دا ټولنيزې رسنۍ له يوه اړخه يو انسان له خپلې کورنۍ، بچيانو، مېړه/ ښځې بېلوي او دومره وخت له دغو رسنيو سره لګوي چې پلرونو او ميندې يې له خپلو بچيانو، بچيان يې له خپلو پلرونو او مېړه يې له خپلې مېرمنې او يا هم مېرمنه يې له خپلې مېړه سره نه تېروي اوله خواله رسنيو او يا هم برېښناييزو ټولنيزو شبکو سره معتاد شوي دي. دا اعتياد د دې لامل شوی دی چې پلرونه او ميندې خپلو ماشومانو ته پاملرنه ونه کړي او د دوی زده کړې او ښوونه سخته زيانمنه شي. همدارنګه يادې اړيکې او رسنۍ د دې لامل شوې دي چې پلرونه دومره بوخت کړي چې له خپلو ماشومانو او د کورنۍ له نورو غړو سره مينه او محبت ونه کړي او د ماشومانو اخلاق او چلند سخت زيانمن کړي او حتا دوی خپله همدغه وېبپاڼو او اپلېکشنونو ته پناه يوسي او ساعتونه ساعتونه هلته داسې بوخت شي چې پلرونه او ميندې يې بې خبره وي.
د مېړه او ښځې په تړاو پر دغو برېښناييزو انټرنېټي وسايلو باندې روږدي کېدل د دې لامل شوي دي چې دوی د يو بل پر وړاندې غفلت وکړي او د دوی ترمنځ د خبرو اترو اړيکې کمزورې کړي او بلاخره د دې لامل ګرځي چې يو بل ته هېڅ پاملرنه ونه کړي او د دوی ترمنځ لوی واټن رامنځته کېږي او ستونزې يې ډېرېږي.
که څه هم خواله رسنيو او اپلېکشنونو اړيکې ډېرې ساده کړې دي او د انسانانو ترمنځ يې د پيغامونو او انځورونو اړيکه خورا ګړندۍ کړې ده مګر په ورته وخت کې همدې چارې د تقوا او له الله سبحانه و تعالی څخه د وېرې د نشتون له امله د ښځې او يا مېړه له لوري د خيانت کولو لامل هم شوي دي چې بيا همدا بلاخره د دې سبب ګرځېدلي دي چې د طلاق کچه خورا زياته شي، ځکه د محکمو ريکارډونه ښيي چې د طلاق اخيستلو يوه لويه برخه له دې امله ده چې مېړه او ښځه يو بل پر خيانت کولو تورنوي.
د اړيکو همدغو سهولتونو د مېړه او ښځې باور او اعتماد يو پر بل له منځه وړی دی، په داسې حال کې چې د يوې موفقې او خوشاله کورنۍ بنسټ يو پر بل اعتماد او باور دی، مګر دوی يو پر باندې شکمنېږي او بلاخره د دې هڅې کوي چې په دغو رسنيو کې د دوی ملګري او دوستان ولټوي او يو بل له مختلفو لارو او چېلنونو وڅاري.
په دې اړه خبرې کول موضوع نوره هم اوږدوي او انسان غمجنوي، مګر که خپلې خبرې راغونډې کړو نو بايد وويل شي چې برېښناييزو اړيکو دوه مخي رامنځته کړې ده او د کورنۍ د غړو ترمنځ يې لوی واټن جوړ کړی دی. دغو اړيکو د کورنيو د غړو ترمنځ ګرمې او نېږدې اړيکې له منځه وړې دي؛ د کورنۍ غړي که څه هم په فزيکي لحاظ له خپلې کورنۍ سره وي مګر فکر او سوچ يې په کور کې نه، بلکې له نورې مجازي نړۍ سره وي. يعنې برېښناييزو مجازي اړيکو، رښتينې او واقعي اړيکې له منځه وړې دي؛ اوس په ټولنه کې د کورنۍ د غړو او خپلوانو ترمنځ مخامخ او ګرمې اړېکې نشته، بلکې ځای يې مجازي اړيکو، پيغامونو او د انځورونو استولو نيولی دی.
دا پورته واقعيتونه د دې لامل شوي دي چې له کورنو ارامي او خوشالي کډه وکړي او د کورنۍ د غړو ترمنځ ژمنه او تعهد له منځه لاړ شي، په داسې حال کې چې الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُ وَقَدْ أفضى بَعْضُكُمْ إلى بَعْضٍ وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَاقاً غَلِيظاً﴾

[نساء: ۲۱]

ژباړه:*او تاسو يې څنګه بېرته اخلئ په داسې حال کې چې تاسو يو بل ته رسېدلي یاست او له تاسو يې ټينګه ژمنه په دې اړه اخيستې ده*

راځئ ورونو او خوېندو چې برېښناييزې وسيلې يوازې د دې موخې لپاره وکاروو چې موږ يو بل ته نږدې کړي، نه داسې چې زموږ او ستاسو کورنۍ وپاشي او د کورنۍ غړي مو له يو بل څخه بېل کړي.

**د حزب تحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**د بارا منصاره ليکنه**